مصطفی پسرلی

۲۰۱۹/۱۱/۲۱

# غزل

## د کچینیانو د ورځې په باب

ژوند کې مې ښکلي ارمانونه لرل
د ودانۍ مې هسک فکرونه لرل

ولې به نه ژاړم چې وران ویجاړ شول
ما د ګلانو ډک باغونه لرل



درته کومه د مات زړه خبرې
مونږ د یووالي پلانونه لرل

چي پيژندو به مو حاكم او محکوم

داسي سپيڅلي مـو وختـونـه لرل

شيخ په فتنو هسې زلمي خاورې کړل

چې په سجدو يې تل، سرونه لرل

د "پسرلي" د زخـمـي زړه لـپاره

مــوږ امباروـنـه، درمـلـونـه لرل

**** **** ****

يادونه:

که چيرى گران لوستونکی و غواړی چی د دی شاعر نوری ليکنی او سرودونو هم ولولی، نو کولای سی چی، پر انځور باندی د «کليک» په اجرا کولو سره د ليکونکی مقالی د «آرشيف» فهرست ته، لار بنودنه تر لاسه کړی!

د کچينيانو د ورځی په باب

Mostafa_p_٦٧_de_kotshniano_de_wraze.pdf